کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری

د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی
خپلواکه او ګډه کمیټه

**Independent Joint Anti-Corruption**
**Monitoring & Evaluation Committee**

## رسنیزه اعلامیه

# د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیته د ولسمشر د ۴۵می ګڼی فرمان د پلی کیدو په اړه د افغانستان حکومت د کړنو څخه خوښه ده، خو په ځینو برخو کی د نورو اړینو ګامونو د پورته کولو غوښتنه کوی.

**کابل، افغانستان: د وری ۱۱ مه ۱۳۹۲:** د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی د ولسمشر د ۴۵می ګڼی فرمان پوری اړوند د فساد پروړاندی د مبارزی د مادو د پلی کیدو په اړه خپل رپوټ خپور کړ. د ولسمشر ۴۵مه ګڼه فرمان د ۱۳۹۱ کال د زمری د میاشتی په پنځمه نیټه خپور شو. نوموړی فرمان د حکومتی اداری د سمون او د فساد پروړاندی د مبارزی پراخه کړنی رانغاړی، چی د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی له خوا د یو غوره ګام په څیر و ګڼل شو.
په دغه فرمان کی د اداری فساد پروړاندی د اړوندو مادو اهمیت ته په کتو سره د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی د نوموړی فرمان ۳۸ مادی د څارنی او ارزونی لاندی ونیولی. د کمیټی موندنو ګډی پایلی په ګوته کړی، یانی په لمړی سر کی د بریالیتوبونو او په وروستیو برخو کی کم پرمختګ دغه انډول سره برابر کړیدی. دهغه ۳۸ مادو څخه چی څارنه ورڅخه شوی، ۸ مادی په بشپړ ډول پلی شوی، ۲۳ مادی په نسبی ډول پلی شوی او ۷ مادی د سره پلی شوی نه دی.
د حکومت له خوا د پام وړ پرمختګونه د قوانینو، تګلارو او ګرنلارو په برخه کی لیدل کیږی، د بیلګی په ډول د تدارکاتو، د توکیو د کنفرانس د ژمنو د پلی کیدو د چوکاټ لپاره د پلان جوړولو، او هم د حکومت له خوا د تړونونو څیړول شامل دی. ددی ترڅنګ، د ولایاتو د معاونینو په ګډون د ځینو کارکونکو د په کار ګمارلو ، او په عدلی او قضایی سکتور کی قضیو د رسیده ګی په برخو کی د پام وړ پرمختګونه نه تر سترګو کیږی او یا هم ډیر کم دی.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی نوبتی رئیس ښاغلی ډرګو کاس وایی:

> "مونږ په ټولیز ډول د ولسمشر د ۴۵می ګڼی فرمان د پلی کیدو په اړه د افغانستان د حکومت د کړنو څخه خوښ یو. سره له دی چی وروستی نیټی د کړنو د پلی کیدو لپاره ټاکل شوی، خو د دوی اغیزمنه پلی کیدنه د افغانستان د حکومت د اوږدی مودی کړنو غښتلتیا ته اړتیا لری. د ولسمشر د ۴۵می ګڼی فرمان د موادو پلی کونه باید ددی لپاره نه وی ترڅو په پلی کیدو سره یی یوه د *پلی شوه علامه* اضافه کړو، بلکه د افغانستان د حکومت اداری باید دا د خپلو کړنو د پیاوړتیا لپاره یو غښتلی هدایت وګڼی."

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه به په فرمان کی د اداری فساد پوری د اړوندو مادو څارنی ته دهغوی د ورستی نیټی د پوره کیدو څخه وروسته هم ادامه ورکړی، څکه چی ددغو کړنو پلی کیدنه د فساد پروړاندی د کړنو لپاره ډیره اړینه ده. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه هیله مند ده ترڅو هغه اداری چی تر اوسه یی د فرمان د موادو د پلی کیدو په اړه د خپلو معلوماتو د شریکولو څخه ډډه کړی، په راتلونکی کی دغه معلومات د کمیټی سره شریک کړی.

**د لا ډیرو معلوماتو لپاره د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی سره په اړیکه کی شی:**
contact@mec.af　　۰۰۹۳۷۹۸۷۵۰۵۲۷